




# د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

د نشر نيته : اول جنوری 2017 م

## هدف

بی هدفه کار او بی مطلبه لالهندی، د ليونو او وړو کار دی . پوه او پاخه خلک د وسايلو د پلټنی څخه لومړی خپل هدف ټاکی او بيا مطلب ته د رسيدو په لاره کښی له وسايلو څخه کار اخلي .
واړه مطلبونه او ناچيز هدفونه د خلکو د اذهانو او استعدادونو څخه ترجماني کوی په دغه مسير کښی له حقائقو سره اشنا کيږی په همغه اندازی د خلکو د هدف مقام لوړيږی .

هو : د وړی سره د ګيدی د مړولو خيال وی . د لوڅ او بربنډ سره د خپل ځان د پټولو سودا وی ، په ياد مو دی چی خان او ملک د اساميو غم خوړه او خپل روابط ئی ټينګول ، صوفی سره مطلب بل څه وی ، د عالم او فاضل دنيا رنګينه ښکاری ، ځوان سره د ځوانی انديښنی او ارمانونه وی ، روشنفکره او مترقی عناصرد خلکو د ژوند د ښه کيدو تلوسی ، هڅی اوهيلی لری ، واړه په خوړلو کفايت کوی، زاړه خواړه او خبری د واړه غواړی .
څوک د خپلی ساتيری لپاره کارکوی او له چا سره بيا د بل چا غمونه وی ، پاخه خلک پاخه کارونه کوی ، نه غوليږی او نه د غولولو کار خوښوی ،
خام خلک خام کارونه کوی، غوليږی، خلک غولوی او دخلکو د غوليدو په کارباندی فخرهم کوی.
صادقو او مخلصو خلکو ته د غولولو کار ګناه ښکاری او ګناه ګاران نه خوښوی .
ځينی هردم خيالی لری او له هرچاه سره سازش خپل کمال ګڼی ، ځينوته بيا دغه خوی اوخاصيت ښه نه ښکاری او د کرکی په نظر ورته ګوری ، يو د خپل مطلب اشنا دی او خپل مطلب ئی مطلب دی او خپل مطلب لپاره جار او قربان لری او لاس په نامه ولاړ وی او داسی نور خپل کسر شان کوی.
بل بيا خپل ټول مطلب د خلکو د مطلبونو په ضمن کښی غواړی و کوښښ کوی چی د خلکو پاک مطالب انجام شي .
يو د يوی ورځی اشنا او ملګری وی ، بل سره بيا هرڅه قوی ښکاری او په يوه ليياره روان وی .

څوک ښه کوی او د ښوکولو په وسيله خپل حيات ته ادامه ورکوي ، له چاه سره دا حس قوی وی چی د درنده ليوه او پرانګ په شانی خلک او حيوانات چيری کړی ، وينی وسکی ، غوښی و خوری او په زوروولو کښی خپل شان او شوکت وساتی .

حقیقت دادی چی د خلکو سره مختلف هدفونه ، هڅی او هیلی لیدل کیږی ، ښه نو څنګه کیدی شی چی اجتماعي اهداف ښه په زړه پوری شي ؟
د دی مطلب لپاره ګڼو مساعیو ته ضرورت دی .
ایا یو اخبار ، مجله اوکتاب دا مسوولیت نه لری چی د خلکو هدفونه د لیکلو په وسیلی سوچه کړی؟
ایا یو عالم ، روشنفکره او مترقی افکارو او حرکتونو مدعی؛ دا حق لری چی وواییی دی په اجتماع کښی مسوولیت نه لری ؟
ایا څوک حق لری چی یوه خلک د اجتماعي دردونو په لپاره کښی و تر تی ؟ نه خیر .

زما په فکر مسوولیت یوازی کوم رسمي ماموریت نه دی چی یوازی به رسمي ماموران مسووله وی ؛ بلکه مسوولیت د پوهی ، تعقل او قدرت په اساس دی او په هره ټولنه کښی څومره چی یوه خلک مسوولیت لری، په هغه اندازه عادی خلک مسوولیت نه لری .

په هر جامعه کښي یوه خلک د جامعی لپاره د حیاتي پانګی مثال لری؛ نو هغه جامعه موفقه ده چی خپله پانګه په معقوله ډول سره په کار واچوی .

کوم جوامع چی په دغه راز نه پوهیږی هغه جوامع به د همیش لپاره د زړه په رنځ اخته وی؛ او دردونه به یی ډیریږی او تداوی چاره به ئی نه وی ، ګیلی ګذاری به ئی زیاتی وی او د کار او نتیجی اندازه به نه لیدله کیږی .
عمومی نفرت او بی اعتمادي به جاری وي ، ویره به ډیره وي ، ذوقونه به خراب ، مایوسی به زیاته او یو ښتنه به نه وی ، یو څه سازش کاره خلک به خپل نه کره او وره کړه ، وړه ، جدیت او خدمت بولی نو په داسی وخت کښی بیا هم حقیقي پوهانو ته غلی پاتی کیدل لوی مسوولیت لری ځکه هره ټولنه د یو هانو په حرکت او برکت مخ په وړلندی ځی .
په دی حساب پوهان ټول باید په ګډه هغه کاروکړی کوم چی د ملک اووطن د خیر په غرض خپل ټول مساعی په کار واچوی او په یوه لاس د جامعی له ساری امراضو سره علمی مجادله شروع کړی او په پوره تعقل د خلکو مشکلات او لانجی لری کړی .
نا معقولیت د خلکو پتی دروند وي او ورځ په ورځ کاروڼه وران او ویجاړ وی، نن په سبا ځان غولول او د نن ورځی کار بلی ورځی ته پریښودل حتمآ باروڼه درندوي .
دا بهتره څه چی دا لازمه ده چی د سبا کارونو د پاره د نن څخه سرشته وینولی شی او لیا د اوس څخه د دی غمه په کار ده چی سبا به څه کوو؟
زمونږ سبا زمونږ د تعین او تخمین له مخی سنجول کیږی نو ډیر زور په دی خبری باید واچول شي چی زمونږ تعین ، تخمین او سنجش صحیح شي .

زمونږ تقدیر دا نه دی چی مونږ تقدیر نه په نا معقوله طور او ډول سره ځان سپارو ؛ نه خیر ! باید ووایم چی ناپوه خلک په دی نه پوهیږی چی د دوی تقدیر څنګه دی ، پوه خلک پوهیږی چی تقدیر او د تقدیر واک دار ؛ د خلکو څخه د کار او د کار د کولو غوښتنه کوي .
خلک مکلف دي چی ښه او بد ښه وپیژنی ، خپل هدفونه ښه کړی او د یو پاک مطلب او هدف د پاره هاند او کوښښ و کړي .
زمونږ مطالب او هدفونه که د خلکو او واقعیت په نګاه ښه کیږی اورومرو ښه نتایج ببنی .
زما باور دا دی چی زمونږ په ملک کښی ښه با درده عالم او فاضل خلک دومره شته ، که چیری دوی د خلکو اذهان تنویر او اصلاح کړی او د خلکو افکار د اجتماعي خدمتونو ، خیررسولو او عاطفی په خوا تنویر کړی؛ حتمآ به عمومي رفاهیت راتلونکی شي او اجتماعي مفاسد به محوه شي .

په دغه منظور زمونږ امید دبیا او بیا د پاره هم د عالمی او فاضلی طبقی په خوا دی ، مګر؛ دا باید ووایم چی څنګه عالم و فاضل ؟

زمونږ امید اود مطلب غټ ټکی د هدف او اهدافو د کلمو په استعمال کښی دا دی چی :
د ملي او قومي اصلاحاتو اهداف د ملي او قومي سوچه او ارزنده اهدافو په خوا واړول شي ؛
تر څو په پوره طاقت د ملي او قومي اصلاحاتو د پاره د قوي پوهانو په وسیلی د عمومي اصلاحاتو او بهتر پرمختګونو د پاره چی ارامی اواطمینان هم ورسره وی یو تر بله د خلکو د مرستی او تعاون وسایل پوره او کافي په کار واچولی شي .
که څه هم اوس د همدغه مطلب لپاره کارکیږی ، مګر ؛ که دغه کار نورهم ښه قومي شي او اساسی شکل ونیسی حتمآ به د جامعی څخه ناوړو رواجونه ، خرافات پرستی ، ګوندی او دښمنی محوه او یا لږی شي . هغه وخت به ضرور د خلکو هدفونه د عالي مطلب په منظور چی هغه د قوم د آرامی ، نهضت او ترقی خیال دی ، ښه پوره آماده او تیار شي .

حقیقت دا دی چی : زمونږ مشکلات زیات دی او په هره برخه کښی کار د نقطی څخه شروع کیږی، نو که د خپل عالي هدف په خوا حرکت کوو، یوازی کومه چاره چی ده ؛ هغه همدا چی ټول په ګډه دغه درونډ بار تر منزله او مقصده ورسوو، دا دی هدف او د هدف ، هدف .

امید دی چی د دغه هدف مطالب ښه و سنجولی شي او د مفدیت په صورت کښی د هدف د تعینیدو او ښه کیدو په عملیه کښی ورڅخه کار واخستلی شي .

باید ووایم چی : د ښو اهدافو د تعینیدو لپاره همه جانبه مطالعی ، سنجش او د اجتماعاتو د روحیی د پاملرنی په خوا ضرورت احساسیږی .
د خلکو ذهنیت ، د اجتماعاتو سویه ، د محیط ایجابات او د شرائطو ملاحظه ، دا ټول هغه شیان دی چی د ښی نقشی او پلان د جوړولو په کار کښی مرسته کوي .

نو هیله ده چی د اجتماعاتو د اصلاحاتو لپاره د دی ټولو نکاتو خیال قوی وسائل شي او د خلکو روحیاتو ته جدی متوجه شوو .

***

سعید افغاني
کابل ـ خیرخانه مینه
د ۱۳۵۵ هجری شمسی کال

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی